مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۱/۱۰/۲۳

# د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

## دویم ټوک

دریپنځوسمه برخه

## فراه

او

د افغانستان سویلي برخې

تصحیحات

ډاکټر لوډویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
۱۹۷۳

**لودویک آدمک**

**د اوبو حجم:**

د سیند د اوبو د حجم په هکله احصائیوي معلومات ښاغلي وارډ د ۱۹۰۳- ۱۹۰۵ز کلونو پورې د سیستان د مأموریت په ترڅ کې راټول کړي دي.

د هلمند د اساسي سیند په هکله د ۱۹۰۳ز کال د هرې میاشتې د ورځنیو اوبو تشولو منځنی کچه یا حد وسط یوازې د سیستان د بند یا د کوهک له بند پورته په لاندې ډول وو:

| | | | |
|---|---|---|---|
| جنوري | ۴۰۰۰ | جولای | ۶۱۳۵ |
| فبروري | ۴۵۰۰ | آگست | ۳۳۳۰ |
| مارچ | ۶۷۷۸ | سپتمبر | ۱۸۹۳ |
| اپریل | ۲۶۱۶۵ | اکتوبر | ۲۰۸۰ |
| مې | ۳۸۷۵۹ | نوامبر | ۲۵۴۳ |
| جون | ۱۶۵۴۱ | دسمبر | ۲۷۰۳ |

ورکړل سوې شمېرې فیټ مکعب په هره ثانیه کې ده. په هزاره جاتو کې واوره په اپریل، مې او جون کې ویلې کېږي.

په ورځنی توګه د کلني وسط (یعنی که اوبهٔ په مساوي ډول ویشل سوي وي) باید ۶۱۶. ۹ (کوسک – یعنی برابر به یوهٔ فوټ په ثانیه کې – کوسک د اوبو اندازه کولو یو واحد دی. – ژ) وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**د اوبو د سطحې کمېدنه یا ټیټیدنه:**

د اوبو د سطحې د ټیټیدنې په هکله لاندیني معلومات هم د سیستان د مأموریت ښاغلي وارډ له پلوه وړاندې سوي دي، ۱۹۰۳ز کال:

په خواجه علي کې (د ۱۹۰۳ز کال د فبروری د میاشتې په اتمه نیټه) د۴۱۳۶ کوسکه د اوبو تشېدل په درې نیم مایلو کې، د ټیټیدو یا لویدلو سطحه په منځني ډول دوه نیم فیټه په مایل کې وه. تر ټولو لوی هغه ئې لس نیم فیټه په مایل کې وه خو دا یوازې د ۱۰۰۰ فیټو په واټن کې وه :

د ۱۹۰۳ز کال د جون په میاشت کې له سینده بیا کتنه وسوه، دغه مهال سیند د سیستان په بند کې ۱۵۰۰۰ کوسکه اوبـۀ تشولې. دا احصائیه له همدغـۀ ځایه تر پوزۀ ماشي پورې سوې چې له قلعـۀ مادرِ پادشاه څخه په لنډ واټن کې ده؛ دغې کتنې لاندنۍ ارقامي پایلې په لاس راکړې:

| | مایل | لویدنه (فیټ په هر مایل) |
|---|---|---|
| له پوزه ماشي تر قلعـۀ میر تقریباً | ۳۱ | ۶ ــ ۲ |
| له قلعــۀ میر تر دوم کلان تقریباً | ۲۸ | ۸۶ ـ ۱ |
| له دوم کلان تر بند سیستان تقریباً | ۱۶ | ۹۲ ـ ۰ |
| له پوزه ماشي تر بند سیستان تقریباً | ۷۵ | ۰۹ ـ ۲ |

**چټکوالی:**

د سیند د اوبو د بهیر په اوږدوالـۀ کې په ځینو ځایونو کې کمـېدنه په یوۀ مایل کې ۶ فیټه ده. په ۱۹۰۳ ــ ۱۹۰۵ کلونو کې د سیستان د مأموریت غړی وارډ د هلمند د اوبو د بهیر د چټکوالي په هکله وایي هر څومره چې شیوه والی کوچنی وي او د سیند بستر پراخ او کم عمقه وي یا شیوه والی لوی او د سیند بستر تنګ او ژور وي نو ددغو ټکیو په پام کې نیولو سره د چټکوالي حداعظم ئې له ۲ تر ۵ مایلو په ساعت کې دی: خو هماغسې چې قاعده ده که شیوه والی هر څومره لوییږي د سیند بستر ورسره پراخیږي او اوبه کم عمقه کېږي. دا هیله باید ولرو. کله چې چټکوالي د هغو موادو د مقاومت پر وړاندې چې کانال جوړ سوی ډېر وي نو کانال تر هغو چې هغـۀ شکل ته ونـۀ رسـېږي چې پر وړاندې ئـې مقاومت وکړي د موادو وړل یا مینځل دوام مومي. د همدې کار لپار ده چې د اوبو بهیر خپل ارتوالی ډېروي او کم عمقه کـېږي. " ما په خپلې برخې کې د اوبو د تشـېدلو چټکوالی موندلې چې د ۴۰۰۰۰ کوسکو تشیدل له ۵ مایلو په ساعت کې پورته چټکوالی نه لري خو غوره به دا وي چې هماغه د ۳ مایلو چټکوالی په ساعت کې حد ورته په پام کې ونیسو."

د سیند د تنګو ناوو په برخو کې د ۷۰۰۰۰ کوسکه سیلاب د درې مایلو او د مایل د ثلث په چټکوالي په ساعت کې په ۲ فیټو شیوه توپ په فیټ کې واوښت. (ایس ایم وارد ۱۹۰۳ ــ ۱۹۰۵).

**د کښتۍ چلولو وړتیا:**

د هلمند په سیند کې د کښتۍ چلولو وړتیا له ګرشک څخه پیل کـېږي او کولای سو ووایو چې له ګرشکه د سیستان تر بند پورې دا سیند د کښتۍ چلولو وړتیا لري. په سیلابي فصل کې د سیستان بند نړېږي او درې وړې سي، ډېرې پیاوړې کښتۍ ته اړتیا ده چې د اوبو د پیاوړي بهیر په مقابل لوري کې بـېرته راوګرځئ. پیکاک د ۱۸۸۴ز کال د اکتوبر په میاشت کې په دې سیند کې کښته له خواجه علي تر هامونونو پورې سفر کړی دی. دی وایي :" که د عامو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کلماتو په پوښښ کې ئـې ووايم، نو وينو چې له څه ناڅه پاملرنې او د «کوهک» د بند په ليرې کولو (که اوسني بهير د هامون له اساسي بهير سره نـۀ يو ځای کـېـدای، او د هلمند د بستر پر زاړۀ بهير باندې د اوبو په اړولو سره) دا سيند د بخاري کښتۍ چلولو وړتيا درلودله يعنی له خواجه علي لس مايله پورته."

کله نا کله به اختلال رامنځته سي خو ويل سوي چې د سيند په بستر کې لويې لويې ډبرې نـۀ سته.

د سيند پرغاړو شين غزي او نور بوټي سته چې سړي ته ډاډمنتيا ورکوي، سره له دې چې دا بوټي د سون لرګيو ځای نـۀ سي نيولای خو د اړتيا پر مهال ورڅخه کار اخيستلای سو خو نـۀ سو کولای چې د بخاري کښتيو د اړتيا لپاره ورڅخه کار واخلو.

د اوبو د اتصالاتي لارو په هکله بايد ووايو چې له کوهک کښته د سيستان کانالونه د خلکو د ويلو له مخې د استفادې وړ نـۀ دي.

**کښتۍ:**

صاحبداد خان وايي چې له ګرشک پورته په ښورکي کې چې د "جسر" (پلـۀ) په نامـۀ يادېږي ۴۵ کښتۍ ګانې ايښودل سوي چې يو پُل ئـې جوړ کړی دی او له دغـۀ پلـۀ څخه د جون له پيله تر دسمبر پورې کار اخلي. همدا شان په ګرشک او دهانِ دو آب کې هم کښتۍ ساتل کـېږي. که څوک په کښتيو کې پورې غاړه اوړي نو نرخ ئـې په لاندې ډول دی: يو سپور: ۸ آني، پلی مسافر: دوه نيمې آني، بار سوی اوښ: يوه روپۍ لس آني، بار سوی آس ۱۳ آني، يو خر يا بار سوی غوايي ۴ آني. که څاروي بار سوي نـۀ وي نو نيمه پورته ياده سوې کرايه اخلي. ماليات مقاطعه کار قرار دادي اخلي.

په ۱۸۹۳ز کال ښاغلي بيت له ګرشکه ليکلي دي: " بايد زياته کړم چې ما ته وويل سول چې په دا تيرو دوه وو کلونو کې د کښتـيـو د جوړولو چارې د امير د فرمان پر بنسټ تر لاس لاندې نـيـول سوي دي. له (لال پورې – لعل پورې) څخه ماهر کښتۍ جوړونکي راوړل سوي او اوس په سيند کې ۲۴ کښتۍ سته چې له دې ډلې څخه ۱۸ کښتۍ د مسافرو د وړلو او ۶ نور ئـې د څارويو د ليږد راليږد لپاره کارول کـېږي. کله چې د اوبو سطحه ټيټه سي په دې فصل کې له کښتيو جوړ يو پُل حيدر آباد ته نـېږي په هغـۀ ځای کې ايښودل کـېږي چې سيند په خپلو دواړو دائـمي غاړو کې منبقض کـېږي، دا ځای له ګرشکه ۱۲ مايله پورته دی. ټولې هغه قافلې او پسونه او نور چې له سينده پورې غاړه اوړي کندهار ته د خرڅلاو لپاره وړل کـېږي ټول له همدې لارې تـېـرېږي.

ښايي له دغـۀ پلـۀ څخه کار اخيستل اوس بس سوي وي ځکه په ۱۸۹۸ز کال کې دا پُل په داسې بد حالت کې وو چې په څارويو کې يوازې پسونه ورڅخه تـېـرېدلای سوای.

د هلمند ددرې استوګن وګړي کښتۍ جوړونکي نـۀ دي. «توتين» يا له درويو جوړې جالې او بل ډول جالې چې له مشکونو او يا له کدوانو جوړوې وي دلته ډېرې کارول کـېږي، دوی دا جالې يوازې له سينده د پورې غاړه اوښتلو لپاره کاروي نـۀ دا چې له کښته تر پورته ورڅخه د ترانسپورت په توګه کار واخلي. ښايي ددې کار لپاره دوه دليلونه وي: لومړی دا چې د پسرلي له دريو مياشتو پرته په سيند کې دومره اوبـۀ نـۀ سته چې درندې کښتۍ کله ناکله له سينده د اوښتلو لپاره وکارول سي او داسې ښکاري چې دوی همدا يو ډول د جالې جوړښت پـېـژني؛ دويم دا چې دوی داسې وسايل نـۀ لري چې د اوبو د بهير په مخالف لوري کې ورباندې حرکت وکړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د ۱۹۰۳ز کال د فبروری په میاشت کې ډګروال مک موهن وايي چې ددۀ د حکمیت د ماموریت لپاره یوه یا دوه د اړتیا وړ په شیانو بار کښتی مله خان ته واستول سوی. بیا وویل سول چې دغسې ۲۰ کښتی چې د کار وړ دي او د لالپوري د کښتی جوړونکو په لاس جوړې سوې دي په ګرشک کې موجودې دي او دوی ته ورته د کابل په سیند باندې دي چې د ۳۰۰ موندو د وړلو وړتیا لري. بومي تأریخ لیکونکي وايي چې یو وخت په سیستان کې کښتی وې. که دا ربښتیا وي نو باید په سیمه کې چارتراش موجود وي چې کښتی ورباندې جوړې شوې وي خو اوس نـۀ د کوزنې هلمند په اوږدو کې او نـۀ په سیستان کې هیڅ چارتراش نـۀ سته.

**گودر**: له سیند د پورې غاړې اوښتلو لپاره ځایونه :

د سیند د اوبو د بهیر په اوږدو کې اساسي گودرونه دا دي:

| | | |
|---|---|---|
| کجکي | گرشک | شَمَلان |
| گرم آو | بابا حاجي | درویشان |
| سنگور | قلعه بیست (د بُست کلا) | کیر تکه |
| قلعـۀ گاز | خُســَرآباد | دیوالک |
| حیدر آباد | زرس | |

د مک موهن په خبره له لندې محمد امین کښته لاندیني گودرونه موجود دي:

| | |
|---|---|
| لندې محمد امین | یو ډېر ښـۀ گودر دی. یوې جزیرې د اوبو بهیر ویشلی دی. د گودر اوبـۀ چټکې دي او ښایي د سیلاب پر مهال ورڅخه تیریدل ناشوني وي. |
| مله خان، خواجه علي، لندی برېڅ، رودبار، د ماشي پوزه (د پنجه کش زیارت)، اشکینک | ویل سوي چې د ۱۹۰۳زکال د جون په ۲۵ نیټې کله چې د اوبو بهیر ۶۶۰۰ کوسکه وو له سینده واوښته. خو که د سیند د اوبو بهیر له ۵۰۰۰ کوسکه پورته وي اوښتل ورڅخه ناشوني دي. |
| دِۀ میناى، چهار برجک | یو ښـۀ گودر دی |
| د کمال خان بندر | دلته سیند ارت دی او ډېر ښـۀ بستر لري، اوبـۀ چې ۶۶۰۰۰ کوسکه پورې وي بومي خلک ورڅخه بلې غاړې ته اوړي خو که د اوبو بهیر له ۵۰۰۰ کوسکو پورته وي ښایي د باروړونکو څارویو لپاره د اوښتلو وړ نـۀ وي. |
| میر آباد، دکِ دیله، دِۀ دوست محمد، د دوست محمد کلی | د سیند بستر شګلن دی |
| دۀ سبز غازي | د سیند بستر شګلن دی |
| ماشي | دا تر پورتنیو دریو هغو ښـۀ دی ځکه دلته سیند ارت دی او د اوبو بهیر سوکه دی. په دغـۀ ځای کې زموږ د مأموریت ټول غړي پورې غاړه واوښتل او د اوبو بهیر ۳۶۰۰ کوسکه وو. د تیریدلو پرمهال مو د کچرو له شا څخه بارونه کښته کړل. حد اعظم ژوروالی ۴ فیټه وو. دلته د سیند بستر د ډېر تگ راتگ لپاره کښیناستـۀ، له دې کله موږ د۱۹۰۳ ز کال د فبروری په میاشت کې مو په نقشه کې بل نوی ځای په نښه کړ. |
| خوابگاه | ښــۀ او ټینگ له کانو ډک بستر لري. ورڅخه یو مایل پورته د سیستان یا د کوهک بند دی. له سینده اوښتل که د اوبو بهیر له ۵۰۰۰ کوسکو لږ وي ممکن دي، خو کله چې د سیستان د بند اوبـۀ ولاړې وې نا شوني ده. |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | |
|---|---|
| د سیستان له بنده لږ پورته، جرکي، شاه گل | تل په بدلون کې وي او ښـۀ نـۀ دی. د نادعلي د کانال له سره لږ راکښته گودر سته. دغـۀ ځای کې له هلمنده اوښتل هغه مهال شوني دي کله چې د هلمند سیند اساسي بهیر تر ۴۰۰۰ کوسکو پورته سي. د ۱۹۰۳ز کال د مارچ د میاشتې له نولسمې تر شپږویشتمې نیټې پورې زموږ د مأموریت د ډلې ټول کسان په دغـۀ ځای کې په جاله کې پورې غاړه واوښتل چې د هلمند د سیند اوبـۀ ۶۶۰۰ کوسکه وو. له هغـۀ مهاله وروسته په پښو له دغـۀ ځایه اوښتل ناشوني سول. زموږ بار سوي اوښان له راتلونکي گودر څخه چې «طفلک» نومـېږي په ډېرې سختې واوښتل، او موږ په دغـۀ گودر کې د تیریدلو پر مهال څو اوښان له لاسه ورکړل. موږ بیا د ۱۹۰۳ز کال د دسمبر په دریمې نیټې راتیر سولو. دغه مهال د هلمند اساسي سیند۲۶۰۰ کوسکه وو او گودر آسانه وو او اوبـۀ ئـې په هغـۀ ډېر ژور ځای کې ۳ فیټه وې. |
| طفلک یا جهان آباد | د پاریون روډ په څانگې کې یو تر ټولو ښـۀ گودر دی. له هغـۀ مهال ورته لاسرسی شونی دی چې د هلمند د اساسی سیند اوبـۀ له ۶۰۰۰ کوسکه پورته نـۀ وي. |
| مالکي | ښـۀ گودر دی. تر مخکیني گودر چې یاد سو ورڅخه تر اوږد مهاله کار اخیستای سو |
| جلال آباد یا مارگو | دا ځکه ښـۀ گودر نـۀ دی چې د سیند په بستر کې سوري دي |
| دِۀ کـُندل | چندانې ډېر نـۀ کارول کېږي |
| مسجدِ گـُرگ علي | د پاریون په ټول روډ کې دا تر ټولو ښـۀ گودر دی. بستر ئـې ټینگ او ډبرین دی. له دې گودر څخه تر هغـۀ مهاله تیریدلای سو چې د هلمند اساسی سیند تر ۸۰۰۰ کوسکه پورې ورسـېږي خو په ۸۰۰۰ کوسکو کې د سیند د بستر ځمکه تر اوبو لاندې ډوبـېږي او سیلاب وهلې برخه خطرناکه کېږي او تیرېدل ورڅخه ستخـېږي. |
| شیخ ویسي | له پورته یاد سوي گودر څخه څو مایله شمال لور ته واقع دی. لږ گټه ورڅخه اخیستل کېږي. |

په عام ډول که ووایو هلمند او د پاریون روډ د جولای له لومړۍ او د مارچ د لومړۍ تر منځ مهال کې ورڅخه پورې غاړه د اوښتلو وړ دي.

کله چې د هلمند (اساسي سیند) له ۶۰۰۰ کوسکو پورته سي یوازې څو گودرونه د استفادې وړ دي خو کله چې له ۴۰۰۰ کوسکو لږ وي له ټولو گودرونو استفاده کېدای سي.

ویل سوي چې له گرشکه پورته له سیلابي فصل څخه په استثناء پرته له دې چې ډېر وړاندې لاړ سئ کولای سئ له سینده د پورې غاړې اوښتلو ځایونه ومومي.

کله چې په سیند کې د اوبو سطحه لوړه وي په دغو ځایونو کې تر مله خانه پورې جالې موندل کېدای سي:

| د جاله ځای نوم | د سیند غاړې | د جاله ځای نوم | د جاله ځای نوم |
|---|---|---|---|
| کجکي | ښی | بابا حاجي | ښی |
| دو آب | ښی | قلعـۀ بیست (د بُست کلا) | کیڼ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| سنگور | کین | عینک | ښی |
| آدم خان | ښی | سُرخ دوز | ښی |
| ښورکی | ښی | شملان | ښی |
| گرشک | ښی | مله خان | ښی |
| مالگیر | کین | | |

په پورتینو گوردونو کې د گرشک او دو آب جالې زښتې ډېرې مهمې دي او ناظرین ورته ناست دي چې له سینده د اوښتلو پر مهال ورڅخه حق العبور ټول کړي، دا ناظرین د " گذري" په نامـهٔ یادېږي.

نور بیا

**اوبــهٔ لگول**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دوېم ټوک ټولي برخي لوستی شی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ